له رمضان څخه يوه او يا دوه ورځې مخکې روژه مه نيسئ، مګر هغه څوک چې عادتي روژې نيسي، نو هغه دې يې ونيسي

له ابو هريره -رضي الله عنه- څخه روايت دی وايي چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- فرمايلي دي: «له رمضان څخه يوه او يا دوه ورځې مخکې روژه مه نيسئ، مګر هغه څوک چې عادتي روژې نيسي، نو هغه دې يې ونيسي».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم مسلمان د رمضان د مياشتې څخه يوه يا دوه ورځې مخکې له روژه نيولو منع کړي دي؛ په دې نيت چې د رمضان په خاطر له احتياط نه کار واخلي، ځکه چې د رمضان د روژې فرضيت د مياشتې د ليدلو پورې تړلی دی، نو تکلف ته په کې اړتيا نشته، مګر هغه څوک چې له وړاندې يې روژې نيولې لکه هغه څوک چې يوه ورځ روژه او بله ورځ بوزه کيږي، يا دوشنبه او پنجشنبه روژې نيسي نو بيا دې روژه شي؛ د رمضان لپاره د استقبال په خاطر څه نشته، همدا حکم د نورو واجبو روژو هم دی لکه قضايي او د نذر روژې.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4508